ولی محمد خادم ۲۰۱۵/۰۳/۰۸

ښځه د خدای زوروره خو کمزوری بنده

ښځه مور ده، ښځه خور ده، ښځه د ژوند ښکلا ده اوهمدا ښځه ده چی په یوه لاس کی ځانګو او بل لاس کی نړی ځنګوي، که لږ فکر په کار واچوو دا به راته څرګنده سي چي بی له ښځی، نه کور، نه کلی او نه خو هم دا دنیا خوند لری، هومره چی ښځه عاطفه لري خو نارینه به یي ونلري. هومره حقوق چی ښځو ته د اسلام مبارک او مقدس دین ورکړی هغسی حقوق په نورو ادیانو کی نه لیدل کیږی. داسی چی حضرت محمد صلی الله علیه وسلم ښځوته ډیر درناوی درلود. روایت دی چی د الله نبي صلی الله علیه وسلم به هغو ښځو ته چی د حضرت عایشه رضی الله عنها لیدو ته ورتلی د هغوی مخی ته به پاڅیده او د هغوی درناوی او عزت به یی کاوه. همدا سبب دی چی وایی جنت د مور د پښو لاندی دی.
زموږ د هیواد په تأریخ کی ښځو د هیواد په آزادی، آبادی، او پرمختیا کی ستر رول لوبولی او د نارینو سره یی یو ځای د هیواد په ښیرازی کی کار کړی، د میوند د جګړی ګټل یوازی د ملالی د میړانی بیګه ده. د هیواد په آزادی کی د ښځو ونډه زښته ډیره ده د جهاد په وختو کی ښځو د جبهی شاته د جنګ دروند پیټی پر مخ وړه.

څرنګه د مارچ اتمه د ښځو نړیواله ورځ شوه؟.

له نن څخه 152 کاله پخواپه 1857 ز کال د مارچ د میاشتي په اتمه نیټه د نیویارک د ښار د اوبدلو د فابریکو ښځینه کارګرانو د کار د ښو شرایطو، د کار د وخت د کمښت او معاش د زیاتوالي په هکله د ښار واټنوته راووتلي، او د فابریکو د خاوندانو پر ضد یي د خپل حق غوښتلو د اعتراض آواز پورته کړ. د دوي دا اعتراض د واکمنو لپاره د خطر زنګ او دا حرکت یي د دموکراسي او حقوقو د ترلاسه کولو پیل وګاڼه، همدا دلیل و چي دا حرکت یي ونشو زغملي او پر هغه یي مرګوني ګوزارونه وکړه .په 1910 زکال د ډنمارک پلازمېني د کوپنهاګن په ښار کي د نړۍ د سوسیالیستو ښځو دویم نړیوال کنفرانس د ((17هیوادو نه دراغلو100)) تنو ښځینه استازو په ګډون جوړ شو، د همدي کنفرانس په وروستۍ ورځ د آلمان پیژندل شوي سیاسي څیرې اغلي کلا را ستکین لخوا د غونډي برخه والو ته وړاندیز وشو چي د 1857 زکال د نیویارک د ښار د اوبدلو فابریکو د ښځینه کارګرانو د تأریخي غونډي او هغوي سره د وخت د حاکمانو دوحشیانه چلند او پولیسو د حملي د قربانیانو د همیشني یاد په خاطر دي دا ورځ د ښځو د نړیوال پیوستون دورځي" په نامه ونومول شي او پدې ورځ د نړۍ د ښځوسره د ملا تړ او د هغوي د انساني او طبیعي حقوقو د دفاع په خاطر غونډي جوړي شي.دا ((99))کاله کیږي چي د نړۍ په مختلفو هیوادو کي د دې تاریخي او نه هېرېدونکي ورځي یاد تازه کیږي.ښځو د اوږدو مبارزو، هڅو او قربانیو په پایله کښي، د لومړي ځل لپاره د نیوزیلاند په پارلماني ټولتاکنو کي ښځوته د رایي ورکولو حق ورکړ شو، دا حق د استرالیا، فنلنډ او ناروي ښځو تر لومړۍ نړیوالی جګړي مخکي تر لاسه کړئ ؤ. مګر د پخواني شوروي اتحاد ښځو په 1917، د فدرالي آلمان ښځو په 1918، د انګلستان ښځو په 1919، د امریکا ښځو په 1920، د افغانستان ښځو په 1934زکال، په ایټالیا او فرانسه کي ښځو تر دویمی نړیوالی جګړي وروسته او په یمن کښي په 2003 زکال دا حق ترلاسه کړه چي په انتخاباتو کي ګډون وکړي. له بده مرغه تر اوسه د نړۍ په ګوټ ګوټ کي ښځو ته د دوي هغه حقونه چي د بشر د حقوقو د اعلامیي په 18، 19 او27 مادو کښي څرګند بیان شوېدي، نه دي

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

ورکړل شوي.زموږ په هیواد کې د ښځو سره چال چلند بیا د یو شمیر زیاتو نورو هیوادو د ښځو د ژوند تر شرایطو زړه بوږنوونکي دئ؛ ځکه دلته دود، دستور او عنعنات تر بل هر هیواد زیات برلاسي دي. زموږ ټولنه یو سنتي ټولنه ده، د ښځو په اړوند زموږ د ټولنې د یو شمیرعنعنو او دود سره موافق یو مګر، کله کله زموږ په ټولنه کښې بیا له دود او دستور نه داسې شی جوړ شي چې پلې کول یې د هر وجدان له مخې ناعادلانه برېښې د بیلګې په توګه لکه د ((نهه کلنې نجلۍ او یا ځوانه پیغله یوه 60 کلن سړي ته په نکاح کول دي. چې زموږ په ټولنه کې دا ډول له بدبختیو نه ډک دود تر اوسه پخپل ټول قوت پر ځاي پاتې دی.زیاتې ښځې د کورنې زورزیاتی او تاوتریخوالي قربانیانې دي، کله چې فشار زیات شي یا له کوره تښتي، ځان وژني او یا ځان سوځنه کوي. د کوم انصاف او عدالت له مخې ومنل شي چې ښځه یا پیغله دې په بدۍ کې ورکړه شي، د دغې ښځې څه ګناه ده، جنایت او قتل نارینه کړی اما ښځه یې جزا وینې. د ښځو سره دا ډول چلند د اسلام د مقدس دین، بشري عاطفې او انسانیت خلاف کاردی. په پای کی ټولو خویندو اومیندو ته که په هیواد دننه او که زموږ د هیواد څخه بهر وی ټولو ته د زړه له کومی د ښځو د نړیوالی ورځی په مناسبت مبارکی وایم او تل د دی غوښتونکی یم چی باید حق وحقدار ته ورکړل سي څه چې اسلام روا بللی هغه باید تطبیق سی څه چې یی منع بللی هغه باید ونه کړل سی، نو پکار داده چی باید ټولو خویندو د خپلو حقوقو او د کورنی په جوړولو کی د اسلام مطابق لاسونه د وحدت سره ورکړی ترڅو د وحشت او تاوتریخوالی څخه خلاص سي

پای

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ